# UC DAVIS HEALTH

## د موټر د څوکۍ د خوندیتوب لارښود




### مخ په شا – د ماشوم او بدلېدونکي څوکۍ

- له 2 کلونو څخه لږ عمر لرونکي ماشومان او کوچنیان باید ټول مخ په شا څوکۍ کې سفر وکړي مګر دا چې د ماشوم وزن 40 پاونډه یا 40 انچه یا له دې څخه ډېر اوږد وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې د ماشوم اوږو کې یا ورڅخه لاندې وي.
- د سینې ترونکی تړل کېږي او تخرګ لاندې کچه کې وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې کلک دي، په اوږه کې یې نښئ تړلی.




### مخ په وړاندې څوکۍ – بدلېدونکي او ترکیبي څوکۍ

- ماشومان هغه مهال د موټر مخ په وړاندې څوکۍ کې سفر کولی شي چې لږ تر لږه 2 کاله عمر ولري یا د مخ په شا څوکۍ کې خپل د موټر د بدلیدونکي څوکۍ د لوړوالی او وزن محدودیت څخه اوښتی وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې د ماشوم د اوږو له پاسه وي.
- د سینې ترونکی تړل کېږي او تخرګ لاندې کچه کې وي.
- د موټر د څوکۍ تسمې کلک دي، په اوږه کې یې نښئ تړلی.



### تقویتي څوکۍ – لوړه شاتنۍ برخه یا شاتنۍ برخه نه لرونکی

- له 5 کلونو څخه ډېر عمر او 40 پاونډه څخه ډېر وزن لرونکي ماشومان
- د تقویتي څوکۍ د کمربند موقعیت ستاسي ماشوم اوچتوي تر څو د غېږې او اوږې کمربند په مناسبه توګه وتړل شي.
- د اوږې کمرزند د اوږې او سینې منځ کې پروت وي.
- د غېږې کمربند پورتنۍ ورون باندې پروت وي نه خېټې باندې.



### د څوکۍ کمربند – مشرانو ماشومانو لپاره

ماشومان تقویتي څوکۍ کې وساتئ تر هغې پورې چې:

- هغوی دومره لوړ وي چې له قاتېدو پرته څوکۍ کې کېني، اکثره کله چې "9`4 وي
- هغوی کولی شي شاته څوکۍ کې چې پښې یې د څوکۍ څنډه کې قات شوې وي کېني.
- د اوږې کمربند د سینې له منځه څخه تېر شي او په اوږې باندې پروت وي (نه په غاړه باندې).
- د غېږې کمربند لاندې ځای پر ځای او پاسنی ورون باندې وتړل شي (نه خېټې باندې).
- هغوی ټول سفر کې دغه ډول ناست پاتې کېدلی شي.



**د کالیفورنیا قانون پر بنسټ اړین دی چې**

ماشومان تر هغې پورې چې 8 کلن یا "9`4 اوږد شي په سمه توګه د موټر څوکۍ یا تقویتي څوکۍ کې مهار شي.
**تر 2 کلونو لږ عمر لرونکي ماشومان باید مخ په شا څوکۍ کې سفر وکړئ مګر دا چې وزن یې 40 پاونډه او لوړوالی یې 40 انچه یا ډېر لوړ شوی نه وي.**
ټول 8 کلن یا تر دې لږ عمر لرونکي ماشومان باید د موټر شاتنۍ څوکۍ کې مهار شي.

**یو سي ډېویس له صدمې څخه د مخنیوي پروګرام**
**916 734 9798**

UC DAVIS HEALTH

# د موټر د څوکۍ د نصبولو مرکزونه

*لطفاً ملاقات وخت ټاکلو لپاره اړیکه ونیسئ*

## د ساکرامنټو سیمه

د کالیفورنیا پوهنتون ډیوس روغتیا ................................... 916-734-9798

ډیګنیټي روغتیا (کارمیکایل او سیهلي سکرمنټو) ....................... 916-864-5779

د ایلک ګرو د اور وژنې څانګه ........................................ 916-405-7114

CHP جنوبي ساکرامنټو ................................................ 916-897-5600

د لو یدیځ ساکرامنټو د اور وژنې څانګه ................................ 916-617-4600

## د ساکرامنټو سیمې څخه بهر

CHP-نیوکاس ......................................................... 916-663-3344

د سان جوکین کاونټي ................................................ 209-468-8914

د کالیفورنیا پوهنتون، ډیوس د اور وژنې څانګه ډیوس اور وژنې څ 530-752-3852

CHP-ووډلینډ ........................................................ 530-662-4685

یولو ولسوالۍ روغتیا ................................................ 530-406-4410

AAA ................................................ مراجعه وکړئ: aaa.com/carseats

UC DAVIS HEALTH | CHILDREN'S HOSPITAL

# د موټر څوکۍ نصبولو لارښوونې

**د موټر د څوکۍ د لارښوونې لارښود** او د موټر څوکۍ نصبولو په اړه د د موټر د څښتن د لارښود برخه ولولئ. د موټر هره څوکۍ باید په خپل ځای کې خوندي کېدو لپاره ښکتنۍ لنګر یا د څوکۍ کمربند کارولو سره نصب شي.

د موټر څوکۍ شاتنۍ څوکۍ کې په **مناسب لورۍ** ځای پر ځای کړئ. د څوکۍ کمربند یا د لنګر د نښلولو تار د کمربند مناسبې لارې څخه تېر کړئ.

کمربند **وتړئ او کلپ** یا لاندینۍ لنګر خوندي کړئ. خپل لاسونه د موټر څوکۍ باندې کېږدئ او د کمربند یا لاندینۍ لنګر کلکولو پر مهال فشار ورکړئ.

د کمربند لارې ازمویلو پر مهال د منځنۍ اندازې قوې کارولو سره **ډاډه شئ چې د موټر څوکۍ** له یو انچ څخه ډېر څنګ یا مخکې او وروسته **حرکت نه کوي**.



### د مخ په شاه نصبول

ډاډه شئ چې د موټر څوکۍ د تکیې سمه زاویه کې نصب شوې دی. اکثره موټرونه دغې مرحې کې مرستې لپاره خپله د زاویې ښودونکی یا تنظیموونکي لري.




### مخ په وړاندې نصبول

ډاډه شئ چې پاسنۍ **نښلونکي تسمه** په موټر کې له نښلوونکی لنګر سره وصل کړئ. دا مرحله له دې امله چې د ټکر پر مهال د وړاندې په لوري د سر حرکت محدود کوي مهم دی.